بسم الله الرحمن الرحيم ط

# زموږ د هیواد د وروستیو څلورو لسیزو

# ۱۳۴۳ – ۱۳۸۳ هـ.ش. مهمې پېښې

سردار محمد داؤد له ۱۳۳۲ هـ.ش. ( ۱۹۵۳ ع ) څخه د ۱۳۴۲ هـ.ش. کال د کب د میاشتې تر ۱۷ نېټې پورې چې د ۱۹۶۳ ع کال د مارچ د میاشتې له ۷ نېټې سره سمون کوي د افغانستان د پاچهۍ دولت صدراعظم و.

د ۱۳۴۲ هـ.ش. کال د حوت د میاشتې په ۲۳ نېټه د افغانستان پاچا د صدارت دنده ډاکتر محمد یوسف ته وسپارله. د ډاکتر محد یوسف د صدارت په دوره کې په ۱۳۴۳ هـ.ش. کې اساسي قانون نافذ او د دموکراسي دوره چې د مشروطه غوښتونکو اساسي هیله وه پیل شوه . اجرائیه، مقننه او قضائیه څواکونه رامنځته شول، د مطبوعاتو آزادي ومنل شوه او ملي جریدو په خپرونو پیل وکړ. پارلمان د گوندونو قانون تصویب کړ، خو د پاچا لخوا تر پایه لاسلیك نه شو. ټولنې او سیاسي گوندونو د دموکراسي تجربه نه درلودله. گوندونو خپلسري فعالیت پیل کړ او ځینو په ډاگه د پارلماني مبارزې سوله ایزه لاره ردوله او له قهرامیزه لارې د بنیادي بدلون غوښتونکي وو. پارلماني ازادي په انارشي بدله شوه او په همدغه لسیزه کې پارلمان له پنځو صدراعظمانو څخه یا د اعتماد رأی بېرته واخیسته او یا یې استعفا کولو ته اړ کړل. د دموکراسي د دورې لومړنی صدراعظم ډاکتر محمد یوسف د ۱۳۴۴ هـ.ش. کال د لړم د میاشتې د دریمې نېټې د سوله ایزو مظاهرو د ټکولو له امله د لړم په اتمه نېټه استعفا کولو ته مجبور شو او ددې دورې وروستي صدراعظم موسی شفیق په ۱۳۵۱ هـ.ش. کال د ایران له صدراعظم امیر عباس هویدا سره د هلمند د رود د اوبو د ویش موافقه لاسلیك کړه. د موافقې لاسلیك د افغانستان په سیاسي گوندونو او پارلمان کې د مخالفتونو او احتجاجونو هیاهو جوړه کړه. پارلمان لنډه موده وروسته تطمیع او قانع شو، خو د تېرو لسیزو د بدمرغیو ریښتینی لامل له همدغه ځایه پیل شو.

کورناستی سردار محمد داؤد چې له خپلې شاهي کورنۍ سره یې کورني اختلافات درلودل او د تېر صدارت د واکمنۍ نشه یې په سر کې وه روانو سیاسي لوبو ته په ځار و. له ایران سره د هلمند د اوبو د ویش قرارداد محمد داؤد ته ښه پلمه برابره کړه، د ۱۳۵۲ هـ.ش. کال د چنگابن د میاشتې په ۲۶ نېټه یې په توره شپه کې کودتا وکړه، شاهي نظام یې ړنګ او د هغه پر ځای یې جمهوري نظام اعلان کړ. محمد داؤد په خپله رادیویي مرامي وینا کې چې د " خطاب بمردم افغانستان " عنوان یې ورکړی و مترقي تگلاره خپله کړه. دده دغې وینا د ټولو روڼ اندو او په تېره بیا د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند ملاتړ تر لاسه کړ. د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند د یوې اعلامیې په ترڅ کې له خپلو غړو څخه وغوښتل چې د نوي نظام ملاتړ وکړي.

د محمد داؤد د حکومت پر ضد پنځه کودتاوې شنډې اعلان شوې او دولت پلان شوې کودتاوې د لاندینیو اشخاصولخوا ښودلې وې :

لومړی کودتا د ۱۳۵۲ کال د زمري په میاشت کې د محمد هاشم میوندوال لخوا، دوهمه کودتا د ۱۳۵۲ کال د لیندې د میاشتې په ۱۵ نېټه د ضبط احوالاتو د رئیس جنرال رسولجان لخوا، دریمه کودتا په همدغه کال کې د مولنا فیضاني لخوا وه چې دقیقه نېټه یې راته نده په یاد، څلورمه کودتا په ۱۳۵۴ کال کې د استاد رباني لخوا او پنځمه کودتا په ۱۳۵۵ کال کې د جنرال میراحمدشاه لخوا.

له بلې خوا د انگریزي ښکیلاك په تدبیر او ښکیلاکي ځواك سره د دیورند د تحمیلي کرښې پوسیله د افغانستان له تاریخي بدن څخه د جلا شوو پښتنو او بلوڅو د حقوقو پر سر د محمد داؤد د حکومت مناسبات د پاکستان له حکومت سره زیات خراب وو. نود پاکستان حکومت د افغانستان د حکومت پر خلاف د یادو شوو پرله پسې کودتاوو په وخت کې زموږ هیواد ته د ستونزو پیدا کولو لپاره له هر مناسب فرصت څخه گټه اخیستله. د ښي اړخي سیاست ځینې هغه افراطي پلویان چې افغانستان ته د شوروي پوځ تر راننوتلو وروسته وتلي جهادي څېرې شوې پاکستان ته تښتېدلي وو او د پاکستان د حکومت په لمسون او ملاتړ یې په

پنجشیر او نورو غرنیو سیمو کې بغاوتونه پیل کړي وو. دا ډول ستونزې تر هغې روانې وې چې محمد داؤد او ذوالفقار علي بوټو د خبرو اترو لړۍ پیل کړه.

وروسته محمد داؤد له دموکراسي او په ، خطاب بمردم افغانستان، مرامي وینا کې د افغانستان له خلکو سره له شوو وعدو څخه مخ واړوه او د استبداد لاره یې غوره کړه. هغه د ملي غورځنګ په نامه له وختزیو ( ابن الوقتو ) څخه نوی ګوند جوړ کړ او د نورو ګوندونو په فعالیت یې بندیز ولګاوه. داؤد د سالم اپوزیسیون په ټکولو هم پیل وکړ او د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند مخکښان یې زندان ته واچول. ددغه ګوند غړو محسوس خطر لمس کړ، په قهر شول او له حتمي مرګ څخه د نجات په خاطر یې د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۷ نېټه د ورځې په ۱۱ بجو په رڼا ورځ په یو داسې قیام لاس پورې کړ چې د کابل ښاریان یې په شور او شوق ننداري ته ولاړ وو. دا قیام ۲۲ ساعته وروسته په بشپړ ډول بریالی شو او ښاریانو سرتېرو او افسرانو ته د ګلانو د امیلونو په ورکولو سره د هغه هرکلي وکړ. دلته په ځای بولم چې ووایم د ثور د میاشتې په اتمه نېټه په کابل کې د هغه وخت د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد لوی سفیر د افغانستان د دفاع وزارت مخې ته راغی او د ځان له معرفي کولو وروسته یې وویل چې ما ته خپل دولت دنده راکړې ده، دا ځانته معلومه کړم چې تاسو څوک یاست او ستاسو رهبر څوک دی؟ هغه وویل چې ستاسو له رهبر سره ملاقات کول غواړم. په همدې نېټه له نورمحمد تره کي سره دهغه ملاقات وشو او یوه ورځ وروسته د ثور د نهمې نېټې په څلور بجو یې احوال راوړ چې زموږ حکومت تاسو په رسمیت پېژني.-

د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د ثور په ۱۱ نېټه نورمحمد تره کی د نوي دولت د مشر په توګه وټاکه او هغه له خبریالانو سره په خپله لومړۍ مرکه کې وویل چې موږ په دې طریقه قدرت ته رسېدل نه غوښتل. سردار محمد داؤد زموږ پر ګوند قیام تحمیل کړ او که موږ په دغه ډول واک ترلاسه کول غوښتلای، نو دا کار مو دوه کاله مخکې هم کولای شو.

په هر حال د دموکراسي له لسیزې وروسته دوهمه لسیزه ( ۱۳۵۳ - ۱۳۶۳ ) د افغانانو د هیلو په خلاف د کودتاوو، جګړو او بهرنیو لاسوهنو لسیزه وه چې افغانستان یې د دوو لویو قدرتونو د سړې جګړې د دوران د سیالیو په ډګر واړوه. په دې لسیزه کې د افغانستان د دولت درې برحال رئیس جمهوران ووژل شول. په هیواد کې د پرمختګپالو د اساسي برخې او د شاتګپالو ترمنځ جګړه ورځ په ورځ پراخېدله. د پرمختګپالو مرستې نه پخواني شوروي اتحاد چې له اقتصادي پلوه د مرکزي بازار غوښتونکی و او د شاتګپالو مرستې ته امپریالیستي هیوادونو چې له اقتصادي پلوه د ازاد بازار غوښتونکي وو ټېټرونه وهل. پاکستان او ایران هم د خپلو ګټو په خاطر او خینې عربي هیوادونه دلویدیزو هیوادونو په تشویق د افغانستان د دولت د مخالفینو ملاتړ او مرستندوی وو. پاکستان او ایران پر نورو مرستو سربېره خپل پوځیان او ملیشې په ملکي لباسونو کې د مخالفینو له جنګیالانو سره یو ځای کول.

کله چې د ۱۳۵۸ کال د جدي تر شپږمې نېټې وروسته په افغانستان کې د شوروي اتحاد پوځونو حضور پیدا کړ نو د شاتګپالو تبلیغاتي پله درنه شوه. د ملګروملتونو د اعتراض غږ اوچت شو. د بهرنیو استخباراتي مؤسسو لخوا خینې عربان د جهاد په نامه استخدام او د مخالفینو له لیکو سره یوځای شول. د امریکا متحده ایالتونو له شوروي اتحاد څخه د ویتنام په جنګ کې د ماتې د غچ اخیستلو لپاره ښه موقع ترلاسه کړه. د سکاډ او سټینګر جګړه پیل شوه او د زبرځواکونو تر منځ د سړې جګړې د نانډریو په دوره کې افغانان د تاوده جنګ په بېرحمه لمبو کې وسوځېدل.

افغانستان ته د شوروي اتحاد د پوځي قطعاتو د ننوتلو په باره کې رنګارنګ توجیهات کېږي، خو کومې معتبرې منبع لا تراوسه په دې برخه کې د منلو وړ حقایق ندي څرګند کړي. یوازې په نوي ډهلي کې د روسیې سفیر، یوري وارنتسوف، ویلي دي چې شوروي لدې لاره افغانستان ته خپل پوځي قطعات ولېږل چې امریکا قصد درلود د افغانستان د دولت له مخالفینو سره په پیسو او وسلو سربېره نظامي مرسته هم وکړي. ځکه د ایران انقلاب امریکایي – ضد خصلت درلود او د امریکا لاس تر دوو ډېرو لاندې و. په افغانستان کې یې سفیر ووژل شو او په ایران کې یې دیپلوماتان او د سفارت کارکوونکي یرغمل ونیول شول. امریکا د خپلو ګټو د ساتلو او د دیپلوماتانو د ازادولو لپاره پر ایران د نظامي حملې ترتیبات نیولي وو، خو د سریع حرکت د ځواک برید یې ناکام

شو. هغه وخت پر افغانستان باندې د امریکا د مستقیم برید کولو کوم سند په لاس کې نه و.

ځینې منابع وایي حفیظ الله امین هغه وخت چې دی په امریکا کې په تحصیل بوخت و د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند ته د ننوتلو، له دننه څخه د ګوند د متلاشي کولو او د ګوند د پرمختګ د مخنیوی دا منابع وایي چې له همدې لامله حفیظ الله په امریکا کې خپله زده کړه نیمګړې پرېښودله او وطن ته ستون شو. دا خبره عقل ځکه مني چې حفیظ الله هم تر واکمنۍ دمخه او هم د واکمنۍ په وخت کې ( د وري د میاشتې ۲۵ ، ۱۳۵۸ ) کټ مټ همداسې وکړل. ګوند یې پر څو ټوټو وویشه، ګوندي او غیر ګوندي معتبر شخصیتونه یې له مخې لیرې کړل. ځینې یې له وطنه فرار کړل، ځینې یې بندیان کړل او زیات شمېر یې په شهادت ورسول. ده د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند لخوا د واک تر نیولو وروسته د نورمحمد تره کي هغه غوښتنه او تمایل په کلکه رد کړ چې له نورو مترقي ګوندونو سره د جبهې جوړولو لپاره یې ښرګند کړ . حفیظ الله پر خپل پلار او استاد هم رحم ونکړ، نو ځکه په همدې وخت کې امین نه یوازې له ګونده بهر له سختو جګړو سره مخامخ شو، بلکې د ګوند دننه هم دده پر ضد جهاد تود شو. د ۱۳۵۸ کال د تلې د میاشتې په ۲۲ نېټه خلقي افسرانو د امین د یکه تازۍ پر ضد په ټولو مرکزي قطعاتو کې د پاڅون ترتیبات نیولي وو چې د خپلو جاسوسانو د رپوټونو په مرسته یې د هغه مخنیوی وکړ، خو یوازې د ریشخورو په فرقه کې د خلقي افسرانو قیام نږدې له ۱۸ ساعته مقاومت وروسته وځکول شو او تر ( ۲۰۰ ) زیات سرتیري او افسران پکې شهیدان شول.

حفیظ الله د خپلو سختو استبدادي اعمالو په نتیجه کې د خپلو ګوندي، ملي او بین المللي دوستانو ملاتړ له لاسه ورکړ. په داسې حال کې چې پر عامه تأسیساتو او ملي شتمنیو د دولت د مخالفینو بریدونه او په ولسوالیو او علاقداریو کې د ښوونکو، ډاکترانو اوملکي کارمندانو بېرحمانه ترور او وژنه ورځ په ورځ زیاتېدله، د امریکا مرسته او ملاتړ هم ورسره مخ په زیاتېدو و او د یوري وارنتسوف ادعا واقعیت پیدا کولو ته نږدې کېدله. همدا مهال د هغه وخت شوروي واکمنو حفیظ الله امین له انقلاب څخه د دفاع په نامه د یو تقویه شوي غونډ د ورلېږلو موافقه وغوښتله. حفیظ الله له امریکا سره ددغه هیواد د تشویش د رفع کولوپه خاطر موضوع شریکه کړې. امریکا افغانستان ته د شوروي د تقویه شوي غونډ له رالېږلو سره مخالفت څکه ونکړ چې هغه په دې پوهېدله چې دا کار به له یوې خوا د شوروي پر ضد د افغانانو ملي احساسات راوپاروي او له بلې خوا به شوروي له نړیوال انتقاد سره مخامخ او تجرید کړي شوروي لخوا د تقویه شوي غونډ د رالېږلو وراندیز ومانه او موافقه وشوه چې د غونډ یوه کوچنۍ برخه به دهغه د امنیت ساتلو دنده پغاړه اخلي او نور ځواک به ګردېز ته ځي چې د پاکستان د ملیشو او مخالفینو د پرمختګ مخنیوی وکړي.

د ۱۳۵۸ کال د جدي په څلورمه او پنځمه نېټه شوروي پوځي قطعات د خواجه رواش په هوایي ډګر کې کښته شول. د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د سیاسي دفتر غړي دستګیر پنجشیري په خپله هغه مرکه کې چې دتېر کال ( ۲۰۰۴ ع ) د دسمبر د میاشتې په وروستیو ورځو کې یې د بي بي سي له خبریال سره وکړه وویل چې حفیظ الله امین په ډېرې خوښۍ سره د جدي په شپږمه نېټه د سیاسي دفتر غړو ته په کابل کې د شوروي اتحاد د لوی سفیر هغه ډاډ ښرګند کړ چې ده ته یې ویلي و چې شوروي به له افغانستان څخه د ویتنام په شان دفاع وکړي. د جدي په شپږمه نېټه له افغانستان سره د شوروي اتحاد د مرستو په ویاړ د تاجبیګ په ماڼۍ کې میلمستیا جوړه شوې وه او د سیاسي دفتر غړي د ډوډۍ پر مېز ناست وو چې شوروي کوماندو د ماښام د ۷ بجو په شاوخوا کې د حفیظ الله پر ارګ، د افغانستان پر راډیو، د مخابراتو پر مرکز او د صدارت پر ماڼۍ برید پیل کړ. سره لدې چې امین د سنبلې تر ۲۵ نېټې وروسته د افغانستان په پوځي قطعاتو کې په پراخه پیمانه ګرفتاري کړې وه او د خپل حدس او ګومان سره سم یې مخالف خلقي افسران ځپلي وو، خو په پوځ کې د ناراضي خلقي افسرانو شمېر دده له کړې محاسبې څخه زیات و. د جدي د شپږمې نېټې په ماښام پر حفیظ الله باندې د روان برید په اړه مرکزي قطعات په دې ګومان وو چې امین د کوم داخلي ځواک تر بمبارد لاندې دی او که څه هم په دې نپوهېدل چې دا ځواک به د چا په رهبرۍ عملیات تر سره کوي، خو په دې خوښ وو چې امین راوپرځول شي. له حفیظ الله څخه دده تر ارګ پرته نورو پوځي قطعاتو دفاع ونکړه او ارګ هم تر لږ

مقاومت وروسته تسليم شو. داسې ولي وشول؟ که د شوروي موخه او هدف تودو اوبو ته ځان رسول و، نو ولې افغانستان او ايران ولې نه؟ افغانستان د شوروي دوست او ايران يې له ايډيالوجيکي پلوه دښمن و. ايا د شوروي موخه به دا نه وه چې د افغانستان د خلق دموکراتيك گوند او افغان ولس د امين له استبدادي منگولو وژغوري او نړيوال چپ مترقي نهضت له هغې بدنامۍ او شرمه خلاص کړي چې د امين اعمالو ورپه برخه کړي وو.

لنډه دا چې د حفيظ الله ظالمانه واکمني نسکوره شوه، گوند او وطن ترې په امان شول، خو زموږ په هيواد کې جگړه د سرېدو په ځای نوره هم توده شوه او دا ځکه چې د مخالفينو د تبليغاتو له مذهبي بڼې سره ملي بڼه هم يوځای شوه. امريکا تر پخوا زيات دخپل جنگي ماشين استقامت افغانستان وگرځاوه او زموږ هيواد يې د تاوده جنگ په ډگر واړوه. شوروي ددې ويرې او ډار په سخته لومه کې ښکېل و چې که امريکا پر افغانستان يا ايران حمله وکړي نو د سړې جگړې سيال به يې جنوبي پولې ته راورسيږي. څو کاله وروسته د شوروي اتحاد په مشرتابه کې بدلون راغی چې د افغانستان په مشرتابه يې اغېز وکړ او زموږ په هيواد کې هم بدلون او اصلاحات پيل شول. د ۱۳۶۶ هـ.ش. کال د سلواغې په شلمه ملي روغه جوړه اعلان شوه. څه موده وروسته له افغانستان څخه د شوروي پوځ د وتلو لپاره د ژينو موافقه لاسليك شوه او دا پوځ زموږ له هيواد څخه ووت.

له هيواد څخه د شوروي پوځ تر وتلو وروسته د افغانستان دولت مخالفينو ته د گډ حکومت جوړولو وړانديز وکړ. مخالفينو په وار وار د سولې او روغې جوړې خبرې رد کړې، ځکه چې جگړه له هماغه پيله د قدرت لپاره وه نه د شوروي پوځ د راتگ په خاطر .

د مخالفينو له نه پخلا کېدونکي دريځ سره سره ډاکتر نجيب الله اصلاحاتو ته دوام ورکړ. هغه د گوند نوم بدل کړ او د گوند په مرام کې يې هم بدلون راووست. د ژينو د تړون له فيصلو سره سم د ملگرو ملتونو استازي بينين سيوان د افغانستان د دولت او مخالفينو تر منځ د روغې جوړې کوښښ کاوه، خو د سولې دا هڅه د شمالي ټلوالې او د وطن گوند دننه د ډاکتر نجيب الله د مخالفينو اتحاد اوگډې دسيسې ناکامه کړه. ډاکترنجيب په کابل کې د ملگرو ملتونو په دفتر کې پناهنده او زنداني شو. مجاهدينو د ۱۳۷۱ کال د ثور په اتمه خپل مرکز له پاکستانه کابل ته انتقال کړ. دوی په لنډه موده کې دولتي دفترونه، بانکونه، موزيمونه، ځانگړي کورونه او هر څه لوټ کړل. بيت المال د غنيمت مال وگڼل شو، د لاس ته راوړلو لپاره يې خپلمنځي جگړې پيل شوې، د کابل ښار او ټول هيواد د جنگي ډلو ترمنځ ووېشل شو.

په څلورمه لسيزه ( ۱۳۷۳ - ۱۳۸۳ هـ.ش. ) کې د قدرت جگړې زور واخيست او امريکا او لويديزې نړۍ په ښکاره افغانستان يوازې پرېښود . په دې لسيزه کې کور په کور، کلي په کلي او په ښارونو کې کوڅه په کوڅه چور او چپاول زيات شو. په دې وخت کې طالبان له داسې شعار سره رامنځته شول چې افغانستان او اسلام ته له بدنامو مجاهدينو څخه نجات ورکوي. د طالبانو دتحريك د راپيدا کېدو سره سم بين المللي خبري رسنيو داسې څرگندوله چې دا تحريك د پاکستان دولت د امريکا له پلان او مشورې سره سم رامنځته کړی دی. طالبانو د ۱۳۷۵ کال د ميزان په مياشت کې د کابل تر نيولو سمدلاسه وروسته جمهور رئيس نجيب الله په شهادت ورساوه. ددغه کار په کولو سره د دوی ملي او بين المللي ملاتړ کمزوری شو. په ټوله نړۍ کې يوازې پاکستان، سعودي عربستان او بحرين چې د امريکا متحدين وو د طالبانو حاکميت په رسميت وپېژنده.

د طالبانو په واکمنۍ کې د نجونو پر مخ د ښوونځيو دروازې وتړل شوې، سينماوې بندې شوې او په راديو او تلويزيون کې پر موسيقۍ هم بنديز لگېد. د باميانو تاريخي بتان مات شول او د اسلام د احکامو تفسير او تعبير له نورې اسلامي نړۍ څخه جلا او بل ډول شو. د افغانستان اصلي واکمن عربي فراريان او د پاکستان استخباراتي مؤسسې وې. له شمالي ټلوالې سره دطالبانو جنگ روان و او روسيه، ايران او هندوستان د شمالي ټلوالې تر شا ولاړ دولتونه وو. هغه وخت چې د ۲۰۰۱ ع کال د سپتمبر د مياشتې په ۱۱ نېټه د امريکا په متحده ايالتونو کې د نيويارك او واشنگټن پېښې رامنځته شوې، نو امريکا د افغانستان په اړه په خپله پاليسۍ کې د بدلون او د طالبانو د بديل په فکر کې شوه او د ډالرو په زور او د دولتي قدرت په وعدو يې مرگونې شمالي ټلواله را ژوندۍ کړه. د بېساري بحري او هوايي بمبارۍ وروسته چې گڼ شمېر بېگناه افغانان يې قرباني شول د مجاهدينو د حکومت دوهم پړاو پيل شو. په دغه پړاو کې د پاکستان اغېز کمزوری شو او دامريکا مستقيم اغېز او ملاتړ يې ځای ونيو.

امریکا هوډ وکړ چې د افغانستان د چارو بهیر ته سم لوری ورکړي. د ۲۰۰۱ ع کال د نومبرد میاشتې په ۲۷ نېټه د بن کنفرانس جوړ شو چې د حامد کرزي په مشرتابه یې مؤقته دولتي اداره رامنځته کړه. د مؤقتې ادارې پسې اضطراري لویه جرگه، بیا دلنډمهالی حکومت جوړول، وروسته د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرگه او بیا د جمهور رئیس د ټاکلو لپاره انتخابات له څه نا څه تېروتنو سره سره ټولې مثبتې چارې وې.

د تېرو څلورو لسیزو پېښې لکه د ځنځیر کړۍ یو له بله په ارتباط کې دي. که څوك هڅه وکړي چې یوه پېښه له بلې څخه جلا مطالعه کړي او د سلسلې مراتب له پامه وغورځوي نوهغه به په قصدي توگه دیو چا د مسئول کولو او بل ته د برائت ورکولو نیت او اراده لري او د واقعیتونو تحریف ته به یې ملا تړلې وي.

تېرو پېښو ته تر پورتنۍ لنډې کتنې وروسته په ځای بولم چې د تېرو غمیزو او د هغو د لاملونو په اړه ځینې پوښتنې طرحه کړم او د معاصر تاریخ له پوهانو، حقوق پوهانو، او د بین المللي حقوقو له متخصصانو او نورو پوهانو څخه هیله وکړم چې د پاك وجدان د قضاوت په سیوري کې ورته بې تعصبه ځوابونه ووایي :

– ایا د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون ارزښتونه او د مشروطه شاهۍ، د گوندونو، مطبوعاتو او مظاهرو د ازادۍ منلو ته د پاچا چمتووالی له وخت څخه دمخه کار و او که روڼ اندو ترې ناوړه استفاده وکړه؟

– ایا دا د پاچا گناه وه چې په لسو کالو کې یې د گوندونو قانون لاسلیك نه کړ چې روڼ اندو د هغه په رڼا کې خپله تگلاره ټاکلې وای او له سوله ایزو لارو خپلو موخو ته رسېدلې وای نه د وسلوالې مبارزې له لارې ؟

– ایا د د موکراسی په دوره کې د ولسي جرگې او حکومتونو ترمنځ د توافق همیشنی نشتوالی چې پایله یې د ۵ صدراعظمانو گوښه کېدل وه په هیواد کې د بې ثباتۍ لامل گڼل کېدای شي که څنگه ؟

– د دموکراسی په تازه – پیلي بهیر کې د عقرب د دریمې نېټې د سوله ایزو مظاهرو د بیرحمانه سرکوب اغېز او له وروسته راتلونکو پېښو سره یې ارتباط څنگه ارزوئ ؟

– ایا په ۱۳۵۱ هـ.ش. کال کې له ایران سره د هلمند د اوبو د ویش قرارداد چې د دواړو هیوادو صدراعظمانو، موسی شفیق او امیر عباس هویدا، لاسلیك کړ د راتلونکو پېښو اصلي لامل حسابېدلای شي؟

– ایا د ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتې د ۲۶ نېټې کودتا چې د سردار محمد داؤد لخوا په توره شپه کې چې په ظاهره د هلمند درود د اوبو د ویش له قرارداد سره د مخالفت په پلمه تر سره شوه، شاهي نظام یې ړنگ او د زور له لارې قدرت ته رسېدل یې دود کړل د غمیزو پیل نه شمېرل کېږي ؟

– ایا په (خطاب بمردم افغانستان) کې له خپرو شوو مرامي کرښو څخه، چې د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند یې ملاتړ کاوه، د محمد داؤد مخ اړونه او په دې پلمه د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند د رهبرۍ ډله ایز بندیانول چې د مرکزي کمیټې د ترور شوي شهید غړي میراکبر خیبر جنازه یې په پرتمین او سوله ایز ډول خاورو ته سپارلې وه د وروستیو پېښولامل نه و ؟

– ایا له هماغه پیله د پاکستان لخوا د نوي نظام پر ضد دمرورو افغانانو نظامي تربیه، وسلوالول او د تخریب لپاره را استول د چارو په وروستي بهیر بې اغېزې وو ؟

– ایا د پاکستان لخوا د افغانانو لپاره د جلا وطني حکومت جوړولو، افغانستان ته د جهاد په نامه د عربو او پا کستاني مشاورینو لېږلو، د افغانستان د دولتي نظام د تخریب په موخه د بهرنیو استخباراتي مؤسسو فعالیت ته د زمینې برابرولو او د اور لمبو ته لمن وهلو د پرله پسې وروستیو پېښو د رامنځته کېدو لپاره بنسټ ندی اینبی ؟

– ایا له شوروي اتحاد څخه د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند لخوا د پوځي مرستې غوښتنه د بهرنیو مداخلو له امله نه وه ؟

– ایا د افغانستان په کورنیو چارو کې د ایران د اسلامي جمهوریت مداخلو چې د اسلامي انقلاب د صادرولو تر شعار لاندې پیل شوې زموږ د هیواد په حالاتو اغېز نه درلود؟

– له افغانستان څخه د شوروي پوځي قطعاتو تر وتلو وروسته د افغانستان د دولت د ملي پخلاینې او روغې جوړې د وړاندیز

ردول چې بين المللي ملاتړ ورسره و د چا مسئوليت دی ؟

– ايا د ملګرو ملتونو د استازي ښاغلي بينين سيوان په منځګړيتوب د روغي جوړې د خبرو د سبوتاژ پړه د چا پغاړه ده ؟

– ايا د کابل د ښار دورانولو او په ښارکې د راکټونو او توپونو په ډزو سره له ( ۶۰۰۰۰ ) شپيته زرو څخه د زياتو بيګناه ښاريانو د وژلو پړه د چا پغاړه ده ؟

موږ د دريمې لسيزې ۱۳۶۳ – ۱۳۷۳ هـ.ش. په باره کې دمخه خبرې وکړې او په دې برخه کې نورې خبرې به تکراري بنه ولري، خو يوازې دومره وايم چې د هرې لسيزې د حاکمانو اصلي څېره د قدرت تر نيولو وروسته څرګنديږي. ګرانو هيوادوالو او نړيوالو وليدل چې په هيواد کې قتل و قتال او د تمدن تخريب د قدرت او چوروچپاول په خاطر وشول نه د اسلام لپاره. ګران هيوادوال پوهيږي چې طالبان چا راوستل، عربان چا راوستل، افغانستان چا د بين المللي تروريزم د تربيې په مرکز واړوه او نابللو خپلسرو ميلمنو ولې او د چا په مرسته زموږ له هيواد څخه دبين المللي تروريستانو د تربيې تعليمي مرکز جوړ کړ او زموږ هيواد د چا د ګټو لپاره په نړۍ کې د ترياکو د توليد او قاچاقو لومړی درجه هيواد شو. ايا د باميانو د بتانو پر توپ ويشتل او د نيويارك د لوړو برجونو ورانول يوازې د عربي ميلمنو مسئوليت و ؟ ؟

په پای کې لنډې پوښتنې دادې چې ملامت څوك دي ؟ لومړی مشروطه شاهي که لومړی جمهوري نظام، لومړی دموکراتيك جمهوريت که لومړی اسلامي جمهوريت او يا لومړی اسلامي امارت، سره جګړه، زبر ځواکونه که د ګاونډيانو لاسوهنې او کينې افراط که ښي افراط؟ ايا د افغانستان د پرله پسې اشغال بهير د افرادو او اشخاصو په خاطر و که له افغانانو سره د دوستۍ په خاطر او يا هم د زبر ځواکونو او ګاونډيانو د ستراتيژيکو موخو په خاطر ؟

زه باور لرم چې د پورتنيو پوښتنو د ځواب لپاره کتابونه او کلونه په کار دي.

زما وړانديز دادی چې راځئ ټول په ګډه يو شی ملامت کړو او هغه د بيسوادۍ لوی رنځ چې نفاق ورسره ملګری دی. اوس زموږ د ټولو دردونو فوري علاج يوازې او يوازې اتفاق او ملي يووالی دی. که موږ له تېرو حوادثو درس اخيستی وي او هوښيار شوی ملت ځانته وايو نو ملي ګټې به د غچ او انتقام او د هر ډول تعصب له روحيې څخه په مراتبو اوچتې وګڼو او سرتاسري بخښنه او ملي پخلاينه به مو نه ماتيدونکی شعار وي .

و من الله التوفيق

قدرت الله ۰ ب

د سلواغې شپږمه، ۱۳۸۳ هـ.ش کال

د جنوری ۲۴ – ۲۰۰۵ عيسوي کال

هالند ، خرونينګين